DEMAC
DIASPORA EMERGENCY ACTION & COORDINATION



# دراپور لنډیزد بېړني او بېرته رغېدني حالتونو لپاره د ملاتړ په تنظیمولو کې په بهرنیو هېوادونو کې د مېشتو افغانانو (ډیاسپورا) رول

## د هرات د زلزلې پر وړاندې غبرګونو څخه څرګندون :

german cooperation
DEUTSCHE ZUSAMMENARBEIT

Implemented by
giz Deutsche Gesellschaft für Internationale Zusammenarbeit (GIZ) GmbH

## پېژندنه

دا څېړنه ډايسپورا د بشردوستانه بېړنيو عملياتو او همغږۍ اداري (DEMAC) په سپارښتنه د ساميول هال اداري لخوا ترسره شوې چې د ۲۰۲۳ زېږديز کال د هرات په زلزلې د تمرکز ترڅنګ د افغانستان دننه کړکېچونو پر وړاندې غبرګون کې په بهرنيو هېوادونو کې د مېشتو افغانانو (ډايسپورا) لخوا ترسره کېدونکی رول څېړي. نوموړې څېړنه موخه لري ترڅو د افغان ډايسپورا بېلابېل مشارکتونه سره جلا کړي، هغه عملياتي ميکانيزمونه وپېژني چې دوی يې کاروي، د دوی انګېزې درک کړي او په بشر دوستانه اقداماتو کې د دوی ښکېلتيا او مشارکت ته د ودې ورکولو پر وړاندې ننګونې او فرصتونه په ګوته کړي. د نړېوالو مرستو د کمېدا، د اقليمي بدون د اغېزو شدت او له ګاونډيو هېوادونو څخه په پام وړ ډول د افغانانو جبري راستنېدنې پرمهال د ډايسپورا د سرچينو په اړه پوهېدل او ترې ګټه پورته کول له بل هر وخت څخه زيات اړين او مهم دي.




اټکل کېده چې د ۲۰۲۴ زېږدیز کال تر نیمايي پورې به د ۷.۵ میلیونو څخه ډېر افغانان د هېواد څخه د باندې ژوند کوي چې دا د نړۍ په کچه یوه لویه ټولنو رامنځ ته کوي او شمېرل کېږي. لرې پراته افغانان (ډایسپورا) چې عمدتاً په لویدیځو هېوادونو کې مېشته ده، په هرات ولایت کې د زلزله ځپلو خلکو لپاره د بشردوستانه مرستو ارونډو فعالیتونو په ملاتړ کې د یو ملي احساس پر بنسټ راځرګنده او د سرچینو او مرستو راټولولو او سیمه ییزو مرستندویه عملیاتي ادارو، افرادو او ټولنو ته په مستقیم ډول د لېږلو لپاره یې له خپلو نړیوالو اړیکو څخه ګټه پورته کړه. دا څېړنه د لاندې درېو موخو لپاره ډیزاین شوې ترڅو په بهر کې د مېشتو افغانانو (ډایسپورا) د ښکېلتیا په اړه جامع او پراخه پوهه بیان کړي:

۱. د ډایسپورا فعالانو او د مالي مرستو د تګلارو پلانول،

۲. د اغېزمنو عواملو او خنډونو شننه/تحلیل،

۳. د اغېزې او همغږۍ ارزونه.

نوموړې څېړنه له ۶۰ څخه د زیاتو ګډونوالو – د ډایسپورا فعالانو، سیمه ییزو فعالانو او نوښتګرو – په ګډون سره ترسره شوې ترڅو پراخه سیمه ییز او د ډایسپورا اړخونه منعکس کړي.

## I. د ډایسپورا فعالانو او د مالي مرستو د تګلارو پلانول

افغان ډایسپورا د مرستو د راټولولو او افغانستان ته د یادو مرستو رالېږلو لپاره له یو لړ بېلابېلو ستراتېژیو څخه کار واخلي. دا کړنلارې له انفرادي پیسو لېږلو څخه ور هاخوا دي او په دې کې انفرادي مالي مرستې او د فعالو سیمه ییزو شبکو درلودونکي فعالان او ادارې شامل دي چې د فعالیتونو په ځانګړو موضوعي برخو کې تخصص لري. د افغان ډایسپورا فعالانو د پولو ور هاخوا په بحران ځپلو شرایطو/سیمو او بېړنیو حالتونو کې د فعالیت او کار کولو وړتیا ښودلې ده. په ۲۰۲۳ زېږدیز کال کې د هرات د زلزلې پر وړاندې د غبرګون پرمهال، ډایسپورا سازمانونو نږدې ۳.۴ میلیونه امریکايي ډالر مرسته وکړه. له دغه اندازه مرستو څخه ۲.۸ میلیونه امریکايي ډالر په لومړیو اوو ورځو کې د عاجلو بېړنیو اړتیاوو او په سیمه ییزه کچه پېژندل شویو خالیګاوو ته په غبرګون کې د خلکو لخوا د راټولې شوې مرستې له لارې تأمین شوي وو.

دوی له اغېزمنو ټولنو سره مستقیم او ډېری وختونه ژورې شخصي اړیکې رامنځته کوي چې دا کار د سرچینو چټک او مؤثره تنظیم او مدیریت رامنځته کوي. د دوی مرستندویه میکانیزمونه بېلابېل او په لاندې ډول دي:

- **نړیواله همکاري:** هغه شبکې چې په څو هېوادونو کې شتون لري،
- **ډیجیټل پلټفارمونه:** د اړیکو او مالي مرستو راټولولو لپاره له ټیکنالوژۍ څخه ګټه اخیستل،

- **سیمه ییزې ټولنې:** د ټولنې ځانګړې ډلې چې د خپل هېواد په ملاتړ باندې تمرکز لري،
- **مذهبي شبکې:** د مالي مرستو رسولو لپاره د عقیدې پربنسټ چینلونه کارول او د مالي مرستو راټولولو لپاره مذهبي ناستې او غونډې دایرول،
- **د حوالې چینلونه:** د پیسو د لېږد رسمي او غیر رسمي سیستمونه.

دا څېړنه پدې ټینګار کوي چې د ډایسپورا ډېری غړي د عاجلو اړتیاوو پر بنسټ په انفرادي ډول یا په کوچنیو ډلو کې فعالیت ترسره کوي. دا چې دوی د ډله ییزو اقداماتو لپاره قوي او پیاوړی چمتووالی نښيي، دوی ډېری وختونه په ډله ییز ډول د مالي مرستو په خوندي او اغېزمن لېږد کې له نظارت او ارزونې او اداري ستونزو سره مخ کېږي. دوی ټولنو ته د سرچینو د لېږدولو لپاره په رسمي او غیر رسمي مالي سرچینو باندې تکیه کوي. په دغو مهمو مېتودونو او ماډلونو کې لاندې پېژندل شوي مېتودونه شامل دي:

- **دودیز او غیر رسمي چینلونه – د حوالې سیستم:** دا لرغونی او په باور ولاړ سیستم ډېری افغانانو لپاره د مالي مرستو او پیسو د لېږد یوازینی بنسټ پاتې دی. دا سیستم د خپل بې سارې لاسرسي، د لګښت له پلوه د اغېزمنتیا او سرعت له کبله د مالي مرستو لېږلو لومړنی چینل دی او په ځانګړې توګه د افغانستان ډېری وخت بنسټیز ضعف د مالي مسایلو په مدیریت کې او په رسمي بانکي ادارو د خلکو ژورې بې باورۍ ته په کتو سره خورا مهم سیستم دی. د حوالې معاملې چې د غیر رسمي صرافیو/کمېشنکارانو یا مستقیمو لېږدونو له لارې د شخصي حوالو پر بنسټ ترسره کېږي، د یو داسې لوړ باوري سیستم له لارې فعالیت کوي چې کولای شي له اداري ځنډ او خنډ او د رسمي بانکوالۍ اړوند لګښتونو څخه مخنیوی وکړي.
- **ډیجیټل پلټفارمونه او د خلکو لخوا د مالي مرستو راټولول (Crowdfunding):** آنلاین پلټفارمونو د مالي مرستو د راټولولو په وړتیاوو کې انقلاب رامنځته کړی دی. د GoFundMe او د خلکو لخوا د مالي مرستو راټولولو نور وېب پاڼې د غیردولتي مؤسسو او د ډایسپورا انفرادي غړو دواړو لپاره مشهور وسایل ګرځېدلي دي چې په ټولیزه توګه د بېلابېلو موخو لپاره د پام وړ پیسې او مالي مرستې راټولوي. د بېلګې په توګه د اصیل (Aseel) په څېر پلټفارمونو بشردوستانه کمپاینونو ته د مستقیمو مالي مرستو او بسپنو د آسانتیا برابرولو لپاره په ستراتژیک ډول بدلون موندلی او اړمنو خلکو ته د مالي مرستو د رسولو بهیر یې لا آسانه کړی دی.
- **اسلامي خیریه چارې:** خیریه مرستې ډېری وختونه په اسلامي اصولو کې ژورې ریښې لري. د زکات (فرضي صدقه) او رضاکارانه صدقې (خیریه ډالۍ) په څېر مفاهیم په پراخه کچه کارول کېږي، په ځانګړې توګه د روژې په څېر مهمو مذهبي وختونو کې، ترڅو د ناورین قربانیانو او بشردوستانه موخو څخه ملاتړ وکړي.
- **د ډایسپورا په رهبرۍ د مالي مرستو ورکړه:** یو له وروستیو پرمختګونو څخه د هغو ځانګړو ډایسپورا سازمانونو او ادارو رامنځته کېدل دي چې د روڼ او خوندي چینلونو په رامنځته کولو سره افغانستان ته د مالي مرستو لپاره ځانګړې شوي دي. دغه اداري ډېری وختونه د مالي مرستو/کوچنیو پروژو د ورکړې ادارو په توګه فعالیت کوي، مالي مرستې په دقت سره مدیریت کوي او حساب ورکونه تضمینوي.
- **د ډایسپورا ځانګړي سازمانونه:** دا سازمانونه په ځانګړو موضوعي سکتوري برخو تمرکز کوي، له سیمه ییزو همکارو ادارو سره له نږدې همغږي کوي او د راپور ورکونې رسمي میکانیزمونو له لارې خپلو ډونرانو ته په چټکه او کره توګه حساب ورکوي. د بېلګې په توګه کولای شو د ArtLords چې د کلتوري پُل په توګه فعالیت کوي، Uplift Afghanistan چې د مالي مرستو په لېږلو کې تخصص لري او Ansar Relief چې په زده کړه، ګرځنده کلینکونو او د کورنۍ د ملاتړ پروګرامونو باندې تمرکز لري، یادونه وکړو.
- **د ډایسپورا رضاکارانو شبکې:** د رسمي سازمانونو ور هاخوا، ډېری اشخاص په غیر رسمي توګه په بشردوستانه فعالیتونو کې ښکېل او بوخت دي. دغه رضاکاران د مالي مرستو د راټولولو په هڅو، شخصي مخاطبینو ته د راټولو شویو مالي مرستو په لېږلو او د روانو کړکیچونو او بحرانونو په اړه د عامه پوهاوي لوړولو کې مهم رول لوبوي.

۱ جدول: د مالي مرستو د چینلونو لنډیز چې په بشپړ راپور کې ورته بیاکتنه شوې ده،

| د چېنل ډول | توضیح | ګټې | زیانونه |
| --- | --- | --- | --- |
| **د حوالې سیستم** | د صرافانو (حواله کوونکو) غیر رسمي باوري شبکه، | اسانه کارونه، ارزانه، چټک او په هغو سیمو کې مهم دی چې رسمي بانکونه محدود وي، | مبهم، تعقیب یې ستونزمن، د غیر قانوني مالي تمویل اندېښنې، څارنیزې ننګونې، |
| د پیسو د لېږد رسمي اداره کوونکې ادارې | د مني ګرام او ویسترن یونین په څېر خدمتونه، | رسمي، عموماً د لېږدوونکي لپاره ډېر خوندي ګڼل کېږي، | د ترلاسه کوونکو لپاره باوري پېژندپاڼې ته اړتیا لري، محدود لاسرسی، په بانکدارۍ د خلکو لږ باور، |
| د حل بدیلې لارې چارې | رسمي سیستم دی چې د نورو ادارو لخوا کارول کېدلای شي، | سیمه ییزې مدني ټولنې او سیمه ییز تجارتونه د مالي تمویل میکانیزمونه برابروي، | لږ مستقیم کنټرول او د راپور ورکولو او څارنې پیاوړي سیستمونه اړین دي، |

| | | | |
|---|---|---|---|
| بلاکچین – د مخ پر وړاندې فکر کولو چینل (**Blockchain – forward thinking channel**) | د داخلي حوالو، مالي مرستو او د برېښنا او د بلونو ورکړې لپاره د کرځنده موبایل سیستم، | موجوده ټکنالوژي چې په افغانستان کې د ۶۰۰۰۰۰ بټوو/کڅوړو په درلودلو سره د بېړني حالت او ساتنې/خونديتوب لپاره کارول کېږي، | حساب پې (HesabPay) د افغانستان بانک لخوا د نړیوال جواز د نشتوالي له کبله د نړیوالو حوالو/د پیسو لېږدونو لپاره نه کارول کېږي، |
| ډیجیټلي اسعار (کریپټوکرنسي) | د کریپټو کرنسی له لارې د آنلاین بسپنې/مالي مرستې راټولول، | لومړني کاروونکي (لکه (CTI) کوډ تو انسپایر (Code to Inspire) یوه غیر انتفاعي اداره ده چې د کریپټوکرنسی د کارولو لپاره یو ماډل وړاندې کوي ترڅو افغانستان ته مالي مرستې ولېږدوي) د بنسټ اېښودلو لپاره یو ماډل وړاندې کوي | امریکایي ډالرو یا افغانیو ته د کریپټو کرنسی د تبادلې لپاره د لاسرسي نشتوالی. |

## د اړتیاوو بېلابېلو پړاوونو لپاره د مالي تمویل میکانیزمونه

د نوموړي څېړنې موندنې ښيي چې د ناورین پروړ اندې د غبرګون درې واړو پړاوونو لپاره د مالي تمویل میکانیزمونه یوشان دي: **بېړنۍ مرستې، بېرته رغېدنه او بیارغونه.** د ډایسپورا سازمانونه سیمه ییزو همکارو ادارو یا باوري شبکو ته مالي مرستې ورکوي ترڅو دا درې واړه پړاوونه تر پوښښ لاندې ونیسي چې د بېړنیو مرستو د رسولو په پړاو باندې ډېر تمرکز کوي:

- د بېړنیو مرستو رسولو پړاو: **د هرات زلزلې پرمهال، په بېړنیو مرستو کې اړین توکي لکه خیمې، اوبه، د حفظ الصحې بشپړې کڅوړې، د زیانګالو دلو (مېرمنو، ماشومانو او امېندوارو مېرمنو) لپاره خانګړې خوراکي مرستې او د ماشومانو لپاره د وچو شیدو او کمپلو په څېر اړین توکي شامل وو. ورته هڅې د راستنېدو بحران په اوج کې هغه وخت رامنځته شوې کله چې د ایران حکومت د ۲۰۲۵ زېږدیز کال د جولای په میاشت کې د افغان اتباعو ایستلو ته دوام ورکړ،**
- د بېرته رغېدنې پړاو: **دا چې ټولنې له بېړنیو مرستو له حالت څخه د بېرته رغېدنې حالت ته انتقال شوې، د ډایسپورا غړو د مالي مرستو له لارې د مدني ټولنې سازمانونو ته خپل ملاتړ وغځاوه. دا مالي مرستې بیا په سټراټېژیک ډول مستقیمو نغدي مرستو او د لنډمهاله سرپناه چمتو کولو ته واړول شوې چې د زیانمنو ټولنو ساتلو لپاره د څو میاشتو لپاره اړینې وې. د راستنېدونکو کډوالو د بحران لپاره دا مرستې نورو ولایتونو ته د دوی د ټرانسپورټ او لېږد د تمویل لپاره وکارول شوې،**
- د بیارغونې پړاو: **د زلزلې د مدیریت په دې پړاو کې د ډایسپورا لخوا په تمویل شوي ملاتړ کې د مهمو او اړینو زېربناوو لکه کوروڼو، د اوبو سیستمونو او ښوونځیو بیارغونه شامله وه. په دې پروژو کې یو څو سازمانونه ښکېل وو، ځکه چې دوی ډېرو سرچینو او اوږد مهاله سیمه ییز شتون ته اړتیا لري. د راستنېدونکو کډوالو بحران لپاره، په خورا کوچنۍ کچه، د ډایسپورا غړو له هغو خیریه مرستو څخه ملاتړ وکړ چې کډوال د ژوندانه معیشتي فرصتونو ته ور ورسوي.**

## II. انګیزه‌ها، چالش‌ها و فرصت‌ها

### انګېزې

د هرات ولایت د زلزلې په څېر د بېړنیو مرستو لپاره په بېړنیو هېوادونو کې د مېشتو افغانانو (افغان ډایسپورا) مالي مرستې د وطن پالنې، خواخوږۍ، کلتوري او مذهبي ارزښتونو او اخلاقي مکلفیتونو پر بنسټ ترسره کېږي. د (ټولنې ته د مالي مرستو، وخت او وړتیا د ورکړې افغان روحیه) په ژوره توګه ریښې لري چې ډېری یې د افغانستان پر وړاندې د مسؤولیت احساس او د دې باور له امله هڅول شوي چې د نړیوالو

کرکیچونو پرمهال باید د افغانستان شرایط له یاده ونه باسل شي. ځوان او په ټیکنالوژۍ پوهه ډایسپورا غړي هم د خپل اصلي ټاټوبي او هېواد سره تړلي بشري هڅو او اقداماتو کې بیا ښکېل دي. همدارنګه اوسنۍ حکومت هم د افغانستان اقتصاد په ثبات کې د ډایسپورا رول مني او تصدیقوي.

## ننګونې

په خوندي توګه د مالي مرستو په لېږدولو کې د پیاوړو انګېزو سربېره د مالي سیستم د خنډونو له کبله ننګونې شتون لري.

په مهمو ننګونو کې لاندې موارد شامل دي:

- **د پیاوړو مالي زېربناوو نشتوالی:** د جګړې وروسته حالت، محدود رسمي خدمتونه او او بې ثباته پولي سیاست/پالیسي،
- **په رسمي بانکوالۍ بې باوري:** له اوږدې مودې راهیستې د عامو وګړو لږ باور، چې د ۲۰۱۰ زېږدیز کال د کابل بانک د سقوط په څېر پېښو له امله زیات شوی دی،
- **مبهم او غیررسمي چینلونه:** د حوالې سیستم مبهم والی د غیر قانوني کړنو اندېښنې راپورته کوي او قوانین پېچلي کوي،
- **اداري فساد او کمزوره حکومتوالي:** د پانګونې مخه نیسي، د سیمه ییز فساد لامل کېږي چې د ډایسپورا پروژې اغېزمنوي،
- **بیوروکراتیک خنډونه:** نا اغېزمن اداري بهیرونه د ډایسپورا لخوا د اداره کېدونکې پروژو مخه نیسي،
- **د امنیت او زېربناوو نیمګړتیاوې:** روانه ناامني او محدودې بنسټیزې زېربناوې د مالي مرستو او پانګونې مخه نیسي.

## فرصتونه

دا ننګونې همدارنګه فرصتونه هم رامنځته کوي. د لویو او ډېرو بیوروکراتیکو سازمانونو په پرتله د ډایسپورا فعالانو چټکتیا او مستقیمې اړیکې په لږ لګښت سره کړندۍ او خورا انعطاف منونکې مرسته رسولو ته اجازه ورکوي چې په مستقیم ډول زیانمنو خلکو ته رسېږي.

د پیسو رسمي او غیر رسمي لېږد مېتودونو سره د تړلو ننګونو د مخنیوي لپاره د ډایسپورا فعالانو نوښتیز تکتیکونه رامنځته کړي دي. په دغو تکتیکونو کې لاندې موارد شامل دي:

- په نړیواله کچه د پیسو د لېږد اسانه کولو لپاره په منځګړو هېوادونو د بانکي حسابونو پرانیستل،
- د کره کتنې څخه د مخنیوي یا د پیسو د لېږد محدودیتونو له منځه وړلو لپاره ډېرې اندازه پیسې په کوچنۍ اندازه او په ښه توګه اداره کېدونکو معاملو وېشل،
- نورو هغو باوري ادارو (تجارتونو، افرادو) ته پیسې په پور ورکول چې په افغانستان کې د دوی په استازیتوب مالي مرستې ورکولای شي.

د مالي مرستو نوښتیز ماډلونه لکه له خلکو څخه د مالي مرستو راټولول (crowdfunding)، ډیجیټلي اسعار (کریپټوکرنسي) او د بلاکچېن زېربنا د پیسو د لېږد پر وړاندې د ننګونو د راکمولو وړتیا لري.

- **د ګرځنده موبايل بټوې/والټونه** د نوښتيز مالي تمويل يوه بڼه ده چې د پولې ور هاخوا يا بهرنيو هېوادونو ته په لوېه کچه مالي معاملو ته د اسانتيا برابرولو وړتيا لري. حساب پې (HesabPay) چې د يو افغان ډايسپورا لخوا رامنځته شوی شرکت دی، په افغانستان کې د ګرځنده موبايل له لارې د پيسو د لېږد خدمتونو مخکښ چمتو کوونکی شرکت دی. دا اپليکيشن ډېرې وختونه د نغدي تأدياتو د فزيکي محدوديتونو د راکمولو لپاره کارول کېږي،
- **د بلاکچين ټيکنالوژي** د نغدي مرستو او حوالو دواړو لپاره د څو منځګړو طبقو د لرې کولو لپاره يوه طريقه او لار برابروي چې د لګښتونو د راکمېدلو او د اغېزمنتيا او شفافيت د لوړوالي لامل ګرځي. اوسمهال اصلي ستونزه څارنيز چاپېريال دی: که چېرې خلاص کړل شي، نو دا به وکولای شي د ډايسپورا لپاره د مستقيمې مالي مرستې نور ماډلونه برابر کړي،
- **اصيل (Aseel)** – د بريښنايي سوداګرۍ پلټفارم چې د بشري مرستو او د بسپنې پلټفارم ته بدل شوی دی – د خلکو لخوا د راټولو شويو بشري مرستو د لېږد يو سيستم يې رامنځته کړی دی. په بهرنيو هېوادونو کې اوسېدونکي اشخاص کولای شي د مرستې يوه کڅوړه وپېري او په يوې ځانګړې پېژندنې شمېرې سره يې د لېږدولو بهير په روڼ ډول تعقيب کړي،
- **کوډ ټو انسپاير (Code to Inspire) يوه غير انتفاعي اداره دی چې د کريپټوکرنسی د کارولو لپاره يو ماډل وړ اندې کوي ترڅو افغانستان ته مالي مرستې ولېږدوي.** دا په بهرنيو هېوادونو کې کاروونکو ته اجازه ورکوي چې په اسانی سره خپلې مالي مرستې په خپلو اسعارو کې له يو آنلاين پلورنځي څخه ولېږي. دغه مالي مرستې چې بيا ديجيتلي اسعارو (کريپټوکرنسی) ته بدلېږي، نجونو او مېرمنو لپاره د کوډ ليکنې وړيا ښوونځي له مالي پلوه تأمينوي.

## III. د مشارکت مېتودونه او ارتقايي زده کړل شوي درسونه

د ډايسپورا فعالانو او سيمه ييزو مؤسساتو ترمنځ مشارکتونه تر ډېره غير رسمي دي چې د ډايسپورا ملاتړ د مالي مرستو په توګه راڅرګندېږي. **سيمه ييزې ادارې او مؤسسې په دوامداره توګه دغه داخلي او د ډايسپورا لخوا ملاتړې هڅې ستايي او د تولنې په مشرۍ د نغدي مرستو د پام وړ سرعت او انعطاف په ګوته کوي. دا ډېرې وختونه د لويو داخلي او نړيوالو سازمانونو د درک شوې بيوروکراتيکې بې ثباتی پروړ اندې سره يوځای کېږي.** سيمه ييز نوښتونه د بشري سازمانونو لخوا د لګېدلو دوديزو ځنډونو پرته د عاجلو مرستو د وړاندې کولو وړتيا ښيي. **مهم ټکی دا دی چې دا څېړنه همدارنګه د غبرګون په دغولومرنيو هڅوکې د ښځو د پام وړ مشرۍ هم يادونه کوي، که څه هم د سازماني جوړښتونو دننه او د خپلواکو فعالانو په څېر وي يا حتی د پام وړ تولنيزو محدوديتونو ترمنځ وي.** همدارنګه د لوړې کچې مشارکت هم شتون لري چې د DEMAC او د کډوالۍ نړيوال سازمان (IOM) په څېر د سازمانونو نوښتونه يې څرګندونه کوي. **دغه نوښتونه تکرار او پراخه کېدلای شي او د دوامداره ډيالوګ او مالي پلان جوړونې له لارې د مشارکت لپاره پياوړې فضا او ځای رامنځته کړي.**

### پايليزه

د نوموړې څېړنې مهمه لاسته راوړنه دا ده چې که څه هم د ډايسپورا فعالان ګرندي دي، ځايي تولنې پرې ډېر باور لري او په اغېزمنه توګه فعاليت ترسره کوي، خو د دوی د مالي او عملياتي ظرفيت ذاتي محدوديتونه بېړني حالت ته په لوېه کچه غبرګون کې د دوی مستقيمه ښکېلتيا محدودوي. **هغه ځايي مؤسسې او ادارې چې په ساحه کې شتون لري، په بهرنيو هېوادونو کې د مېشتو افغانانو (ډايسپورا) لخوا د ورکړل شويو مالي مرستو وېش ترسره کوي. د سيمه ييزو او ډايسپورا فعالانو/ادارو ترمنځ مشارکتونه د ډايسپورا د سرچينو او د سيمې نږدېوالي دواړو د بې ساري پياوړتياوو رامنځته کولو لپاره اړين دي.** د ډايسپورا د مالي مرستو د ګډې اغېزې د لوړولو لپاره خورا منظمه پلان جوړونه،

غوره همغږي او ګډ کاري چوکاټونه اړین دي. لکه څرنګه چې افغانستان له راتلونکو بحرانونو سره لاس او ګریوان دی او اټکل یې کوي، دا څېړنه د بشردوستانه همغږۍ په پراخو پلانونو او پروژو کې د ډایسپورا او سیمه ییزو رهبري شویو هڅو او فعالیتونو د پراخ ادغام اړتیا څرګندوي.

## سپارښتنې

### د سیمه ییزو فعالانو/ادارو لپاره

- په ګډو نوښتونو/فعالیتونو کې د تداوم، شفافیت او او ګډې حساب ورکونې د تضمینولو لپاره **د ډایسپورا سازمانونو سره د رسمي مشارکت کاري چوکاټونه رامنځته کول،**
- د داخلي حساب ورکونې پیاوړې کولو او د سیمه ییزو، ډایسپورا او بشردوستانه ادارو ترمنځ د باور رامنځته کولو لپاره **د څارنې، ارزونې، حساب ورکونې او زده کړې (MEAL) کړنلارې معیاري کول،**
- په آنلاین ډول توزیع کولو لپاره د منځپانګو/محتویاتو د راټولولو پرمهال، په ځانګړې توګه په بېړنیو شرایطو کې، د اخلاقي او شرایطو سره د حساسو راپورونو د وړاندې کولو مېتودونو تعقیبول.

د پیوستون او سرچینو د بسیجولو لپاره د عامه پیغامونو د جوړولو پرمهال، داډ ترلاسه کړئ چې:

- **نه یوازې په زیانمننه، بلکه په ټولنه هم تینګار کېږي:** په دې ټینګار وکړئ چې ټولنه له وړاندې څه ترسره کوي (لکه د نوښتونو له سره رامنځته کول، تنظیمول او رهبري کول) او ملاتړ څنګه کولای شي چې دغه هڅونې/فعالیتونه پیاوړي کړي،
- **کرامت او عزت ساتل کېږي:** له ګرافیکي یا حساسې انځورونې څخه ډډه وکړئ. د اړتیا پرمهال بې نومه/مبهم یا سمبولیک انځورونه وکاروئ،
- **رضایت خوندي ساتل کېږي:** د یو شخص د انځور، رضایت، یا تجربې له شریکولو وړاندې، په ځانګړې توګه په حساسو یا ټروما درلودونکي شرایطو کې، د هغوی څخه تل وپوښتئ. د ماشومانو د سرپرستانو له څرګند رضایت پرته د ماشومانو د انځورونو له شریکولو ډډه وکړئ،
- **له درناوي سره بېړنۍ حالت ترمنځ تعادل برقراره ساتل کېږي:** د وضعیت جدیت بیان کړئ، پرته لدې چې له هغو شاک ورکوونکو تکتیکونو څخه ګټه پورته کړئ چې زیانمن خلک له رواني زیان/ټروما له نارضایت سره بېرته مخ کړئ،
- **د ملاتړ لپاره روښانه مسیرونه وړ اندې کېږي:** د دې لپاره چې لیدونکي/اورېدونکي څنګه مرسته کولای شي (مرستې، عدالت غوښتنه، د باوري سرچینو شریکول)، له ساحې او راتلونکي، عملي او د تطبیق وړ ګامونو څخه له شواهدو سره د درناوي وړ کیسې یوځای کړئ

### د ډایسپورا فعالانو لپاره

- د بېړنیو حالتونو پر وړاندې د غبرګون لپاره د بحران په حالت کې د ګډ فنډ/ مالي سرچینو او د دوامداره اغېزو لپاره د اوږد مهاله پراختیایي فنډ/مالي سرچینو رامنځته کولو په موخه **د مالي مرستو راټولول**،
- د ډایسپورا فعالانو او سیمه ییزو ادارو ترمنځ همکارۍ ته وده ورکول ترڅو سرچینې، پوهه او مهارتونه سره شریک کړي او په هغو مالي مرستو/پروژو کې یې په ګډه تطبیق کړي چې په بېړني حالت کې چټک او خورا همغږي غبرګونونه رامنځته کولای شي،
- د ډونرانو د مالي مرستو راکمېدو ته په کتو سره، د مالي مرستو د بدیلو او دوامداره سرچینو په رامنځته کولو کې له تجارتونو او د شرکت ټولنیز مسؤولیت(CSR) **د کسب او کار هغه ماډل دی په کوم کې چې یو شرکت یا کمپنۍ خپلې چارې په خپله تنظیموي او ځان د خپلو ونډوالو او په ټوله کې د ټولنې په وړ اندې مسوول ګڼي. مانا دا چې د ټولنیز مسوولیت له مخې، شرکت یا فابریکه په یوه سیمه کې داسې فعالیت کوي چې نه یوازې هغې ټولنې ته زیان نه رسوي، بلکې خپلې چارې داسې مخ ته بیایي چې ټولنې او شاوخوا چاپېریال ته یې خیر او ښېګڼه رسېږي؛ په خپلو فعالیتونو کې چاپېریالي ستونزو او ټولنیزو اندېښنو ته جدي پاملرنه کوي او هڅه کوي چې په شاوخوا سیمو باندې د خپلو فعالیتونو منفي تاثیرات کابو کړي.)** له همکارو ادارو سره د ښکېلتیا لپاره د خصوصي سکتور څېړل.

### د اداري او بشردوستانه سازمانونو لپاره

- د بودیجې د مدیریت، د سوابقو ثبتونې، د قوانینو مراعتولو او د څارنې، ارزونې، حساب ورکونې او زده کړې (MEAL) سیستمونو په برخه کې د ځانګړو روزنیزو پروګرامونو له لارې د مالي، تخنیکي او عملیاتي مهارتونو لپاره **د ډایسپورا سازمانونو ظرفیت لوړول**،
- له وړاندې د رامنځته شویو ګروپونو سره د نویو رامنځته شویو ګروپو د نښلولو او یوځای کولو **د ډایسپورا سازمانونو ترمنځ رسمي مشارکتونو ته زمینه بر ابرول** او د تجربو د تبادلې او شبکو رامنځته کولو لپاره ورته پلټفارمونه، ځایونه او سرچینې برابرول،
- د ډایسپورا سازمانونو او د مدني ټولنې سیمه ییزو سازمانو ترمنځ د پروژو په ګډه تمویلولو او پلي کولو لپاره **د مالي مرستو د بر ابرولو په میکانېزمونو کې د ډایسپورا د مشارکت ځانګړې فرصتونه رامنځته کول.**